دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دی په نورو سړیو ملنډې ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ردئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له معقل بن یسار المزنی رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي:
الله پاک چې چاته د خلکو واکمني په لاس ورکړي، او بیا ده ته مرګ پداسې ورځ راشي چې دی له خپل اولس سره په ټګۍ کې وي. نو الله پاک به یې د تل لپاره له جنت څخه بې برخې کړي. (رواه مسلم، فی کتاب الایمان)

شهادت دریم کال، ۱۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۷ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د چنګاښ ۲۹ مه د۱۴۳۲ هـ ق د شعبان ۱۹ مه د۲۰۱۱ م د جولای ۲۰ مه

دشمن با کشتار زنجیره یی هیچ گاهی نمی توانند جلو اراده مردم را بگیرد

مخالفین مسلح حکومت با هدف قراردادن شخصیتهای ملی تلاش می کند که پروسه انتقال را به بُن بست مواجه سازند

کابل، رسانه ها:
حکومت افغانستان می گوید: با وجودی که مزاحمت های گسترده بر علیه آغاز پروسه انتقال مسولت به نیروهای افغان ادامه دارد، متعهد است که این پروسه را عملی و به جنگ جاری در کشور خاتمه دهد.
این پروسه به روز یکشنبه آغاز شد و قرار است تا با درنظر داشت شرایط تا پایان سال ۲۰۱۴ تکمیل شود.
وحید عمر سخنگوی رییس جمهور کرزی می گوید: مخالفین مسلح حکومت با هدف قرار دادن شخصیت های ملی تلاش می کنند این پروسه را به بن بست مواجه سازند و اما به گفته وی دولت در عملی سازی آن متعهد است.
آقای عمر که به روز دوشنبه در یک نشست خبری مشترک با سخنگوی وزارت داخله در کابل صحبت می کرد طالبان مسلح و حامیان آنها را به این متهم نمود که بخاطر ادامه جنگ، می خواهند دلیل خود را زنده نگهدارند:
"کسانی که باعث این شده اند طالبان و حامیان شان که نیروهای بین المللی در افغانستان بی آیند آنها تلاش می کنند بخاطریکه تا افغان ها خود مسوولیت امنیتی را به دوش نگیرند تا دلیل که ارایه می کنند که موجودیت نیروهای بین المللی در

بقیه در صفحه ۴

جان الن به له ډیوېډ پیتراییس سره څه توپیر ولري؟

تاند:
امریکایي جنرال جان الن له جنرال ډیوېډ پیتراییس څخه په افغانستان کې د ټولو نړیوالو ځواکونو قومانده پرون په یولړ مراسمو کې واخیسته خو ده ومنله چې په سیمه کې له سخت ماموریت سره مخامخ دی.
جالن الن په دیارلس میاشتو کې دریم امریکایي قومندان دی چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو قومانده ورپه غاړه کېږي. تر دې مخکې جنرال پیتراییس، د جنرال سټنلي مک کریسټل پر ځای یو کال دمخه په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو د عمومي قومندان په حیث ټاکل شوی و.
جان الن په مجموع کې له ۲۰۰۷ میلادي کال راهیسې په افغانستان کې د ایساف پر له پسې پنځم امریکایي قومندان دی.
افغانستان ته د جنرال الن له راتګ سره په یووخت د طالبانو بریدونه او ترورونه زیات شوي. یوازې په وروستیو ورځو کې د ولسمشر کرزي دوه ډېر نږدې کسان چې یو یې ورور او بل یې معتمد کس و، ووژل شول.
د جان الن له لوري د قوماندې د ترلاسه کولو د ورځې په سهار ناټو ځواکونو وویل چې درې سرتېري یې د افغانستان په ختیځ کې وژل شوي دي.

پاتې ۴ مخ

تحلیل کارشناسان افغان در مورد حملات راکتی پاکستان بر خاک افغانستان

کابل، رسانه ها:
در حالیکه برخی از تحلیلگران و کارشناسان افغان در پرتاب صد ها راکت از قلمرو پاکستان بر مناطق شرقی افغانستان، مستقیماً پای نظامیان آن کشور را دخیل می دانند اما وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل افغانستان نظامیان پاکستان را نه، بلکه دیگر حلقات را در داخل پاکستان مسوول این حملات راکتی می خوانند.
محمد یعقوب احمدزی معین سیاسی وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل افغانستان می گوید که این حلقات می خواهند که روابط میان افغانستان و پاکستان را که در این اواخر بهبود یافته است، خدشه دار بسازند.
اما او به طور مشخص نگفت که کدام گروه ها در این حملات دست داشته اند.
آقای احمدزی این را رد می کند که اردوی پاکستان در راکت پراگنی ها بالای خاک افغانستان دخیل است، زیرا به گفته او مقام های اردوی آن کشور این مساله را رد کرده اند.
وی گفت: "فعلاً حالت طوریست

بقیه در صفحه ۴

د ولسمشر دسلاکار له وژونکو سره وروستۍ اړیکې له پاکستان څخه نیول شوې وې

کابل، پژواک:
د کورنیو چارو وزیر وایي، چې د ولسمشر د سلاکار جان محمد خان او ولسي جرګې د غړي محمدهاشم وطنوال له وژونکو سره وروستۍ ټیلفوني اړیکې له پاکستان څخه نیول شوې دي.
د ولسمشر سلاکار جان محمدخان او په ولسي جرګه کې د اروزګان استازی محمد هاشم وطنوال ورمه شپه په کابل ښار کې د جان محمدخان پر کور د دوو وسلوالو طالبانو په برید کې ووژل شول.
امنیتي چارواکي وایي، چې په دغه برید کې یو پولیس وژل شوی او ۶ ټپیان دي او دواړه برید کوونکي هم له منځه وړل شوي دي.
محمدي، چې پرون یې د ولسي جرګې په عمومي غونډه کې خبرې کولې، وویل، د برید کوونکو له ټیلفونونو څرګنده شوې، چې له هغوی سره وروستۍ اړیکې له پاکستان او د افغانستان له ځینو

پاتې ۴ مخ

ننګرهاریان له خپلو وکیلانو راضي نه دي

جلال اباد، پژواک:
د ننګرهار د بېلابېلو ولسوالیو ګڼ شمېر قومي مشران وایي، چې ولسي جرګې ته بریالیو شویو وکیلانو یې ورته هېڅ نه دي کړي.
د پچیر اګام ولسوالۍ قومي مشر ملک مرید وویل، چې د ننګرهار بریالي شویو وکیلانو تراوسه هېڅ داسې کار نه دی کړی، چې ولس پرې حساب وکړي.
نوموړي زیاته کړه: "اکثره وکیلان په دروغو تللي، موږ ترې راضي نه یو."
هغه وایي، چې ډېری وکیلانو د ټاکنو پر مهال ډېرې پیسې مصرف کړې، چې په وینا یې به ۵ کلونو کې ایله خپل تاوانونه پوره کړي.
د ګوشتې ولسوالۍ د پراختیایي شورا غړي حاجي عبدالحنان پژواک ته وویل، چې وکیلانو ورته د یوې روپۍ کار نه دی کړی.
نوموړي زیاته کړه، چې وکیلانو د

پاتې ۴ مخ

ځان غوښتنه، سر زوري او خپلسري

سید فضل مولا "لېوَن"

شـــوه عجیبه زمـــانه د خـــرخشـــو
چې یې ښې ښکلې مانۍ کړې شو په شو
چې د اوسپنو نیني شـــوې پرې چیچلۍ
خدازه پخ کړل هغه غاښ کـومو تږشو
(خوشحال)

له تقریباً درې نیمو لسیزو راسې زموږ ګران هېواد افغانستان او مؤمن هېوادوال له خورا ستونزمنو حالاتو سره مخ دي، د مرګونو، شهادتونو، زخمونو، بمباریو، کور ورانیو، خپلسریو، تالاشیو او د غمونو، دردونو، سوچونو، فکرونو او تشویشونو یوه نه پای ته رسېدونکې لړۍ روانه ده. هره ورځ نوي غمونه او نوي تشویشونه دي، یوه بې امانه جګړه ده چې د ګران افغانستان ټول وګړي یې لکه د ناسور د دانې په څېر تر اغېز لاندې راوستي دي.
زموږ ګران هېواد که له یوې خوا د یرغلګرانو هدیره بلل کېږي، نو له بلې خوا ورته پخپل وار د غاصبانو د حرص خولې له لاړو ډکې وي، نه موږ د یوه قوم او ملت په حیث له خپل تاریخ نه عبرت واخیست او نه استعماري غاصبانو ددې مظلوم خو مؤمن او مېړني ملت له شهامتونو او شاهکاریو کومه وېره وکړه.
حیراني ده له چنګېزه تر انګرېزه او له روسه تر امریکا هېچا هم ددې ملت مقاومت او قربانیو ته په درنه ونه کتل، ...

پاتې دویم مخ

ایساف ځواکونو شپږو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله

پژواک:
بهرنیو ځواکونو د کاپیسا په تګاب ولسوالۍ کې پر یوه ملکي موټر د ډزو په ترځ کې یوه ښځه وژلې او ۵ تنه یې ټپیان کړي دي.
د کاپیسا د ولایتي شورا غړي نجیب الله رحیمي پژواک ته وویل، چې پېښه پرون مازیګر د تګاب ولسوالۍ د شېرخېلو په سیمه کې رامنځته شوې ده.
نوموړي زیاته کړه، چې په دې پېښه کې یوه مېرمن وژل شوې او پنځه تنه نور ټپیان دي.
د تګاب ولسوال عبدالحکیم اخوندزاده له پژواک سره په خبرو کې یاده پېښه تایید کړه او ویې منله، چې ویشتل شوي ملکي وګړي دي، خو د مرګ ژوبلې د شمېر په اړه یې بې خبري ښودله.
د پېښې یوه عیني شاهد عنایت پژواک

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

په هېواد کې امن ټينګول د افغانانو مسؤوليت دی

موږ پخپلو غړيدليو ستر ګو وينو چې هېواد مو د څو لسيزو راهيسې د ورور وژنې، ناروا اختلاف، ناامنې، تښتونې، بلهې اخستنې، فساد، غصب، بې عدالتې، چور، تالان، ډاکې، غلا، غلتې او اخلاقي فساد په سور اور کې سوځي، په ځانګړې ډول له کومې ورځې نه چې امريکايي او ناټو ځواکونه افغانستان ته راغلي دي افغانانو چېرته آرام او ډاډه ساه نه ده ويستلې، ددې پر ځای چې د امن په نامه راغلي ځواکونو په افغانستان کې د امن فضأ قائمه کړې وای برعکس د ناامنۍ او ويرې ترهې په ډند کې يې لاهو کړ، اوس د افغانانو په خوله همدا يوه خبره ده چې افغانان د خپل تاريخ په اوږدو کې کله هم له داسې بو ګنوونکې او ويرجن حالت سره نه وو مخامخ شوي څومره چې د لسو کلو په موده کې مخامخ شوي دي.

اوس هر افغان پخپل ژوند باور نه لري او پدې اندېښنه کې ډوب دی چې کله او چېرته به دده د ژوند ډيوه مړه کېږي.

نه څوک په ښارونو کې امن احساسوي او نه هم په کليو او قريو کې، مرګ هره شېبه دهغوی ژوند ګواښي، چاودنو، بمباريو، د شپې پر مهال د کورونو تالاشيو، د بې ګناه خلکو د وژلو، ځورولو او نيونو د افغانانو ژوند داسې تريخ کړې چې د ژوند ټولې مزې ترې له ياده ويستلې دي.

که چېرته د يو هېواد د ولسمشر ورور او د ولايتي شورى د رئيس مرګ هم دومره آسانه شي چې پخپل کور کې د خپل ساتونکی له لاسه ووژل شي، د کابل په زړه او ولايتونو کې د لوړ پوړو چارواکو او قومي مشرانو ژوند محفوظ پاتې نشي نو د عامو ولسي وګړو د ژوند به څه پوښتنه کوئ !؟

پوښتنه داده چې دغه روان ناورين به څنګه پای ته رسېږي او هغه به کومې لارې وي چې افغانان له دې ويرجن حالت نه نجات ترلاسه کړي؟

تر کومه چې د جنګ او جګړې له لارې پر حالاتو د قابو موندلو او د تسلط د ترلاسه کولو مفکوره وه هغې د تېرو څو لسيزو راهيسې خپله ناکامي ثابته کړه او هر چاته دا حقيقت ور په ګوته کړه چې جنګ د افغانانو يو مشکل هم نشي حلولې بلکې لا پوسې زياتوي يې.

دا چې په افغانستان کې جګړې هېڅ نتيجه نه لري او لدې لارې برې ته رسيدل ناشونې کار دی نو پر ځای او منطقي خبره داده چې د جګړې فکر چورلټ له مغزو وويستل شي، ټول افغانان په يوه خوله د اتفاق او ورورۍ په ټغر کيني، خپلمنځي اختلافات د نورو هېوادو د مداخلې او مرستې پرته پخپله حل و فصل کړي څکه چې پر پرديو د تکيې او بروسې په صورت کې افغانان خپل مادي او معنوي شتمنې دواړه له لاسه ورکوي، بهرنې هېوادونه که هغه ګاونډيان دي او يا هم لرې پراته دولتونه د افغانانو د مشکل په لمنځه وړلو کې خپل نه مؤثريت او ناکامي په څرګند ډول ثابت کړې دی، پر هغوی تکيه کول او يا هم هغوی ته د تمې ستر ګې نيول له سوچه حماقت نه پرته بل هېڅ معنی او مفهوم نه لري. که موږ غواړو چې خپل هېواد د امن ځانګو و ګرځوو، له ټولو بدبختيو او ناخوالو څخه نجات ومومو، خپله ډوبه کښتۍ د سمندر له څپو نه راوباسو نو لدې پرته بله هېڅ لاره پرمخ نه لرو چې افغانان نور تېرې ناکامې تجربې تکراری نه کړي زمکنې واقعيتونو ته غاړه کېږدي او له هر څه دمخه پخپلو کې د جر ګو او مر کو له لارې خپل منځي اختلافات شاته کړي، د اسلام د سپېڅلي دين په رڼا کې ټولو حقايقو ته د زړه له کومې تسليم شي او پخپل هېواد کې د يو رښتوني اسلامي حکومت د قيام لپاره يو بل ته د ورورۍ او مرستې لاسونه ور کړي، څکه چې يوازې د اسلامي حکومت او اسلامي نظام د قيام په صورت کې زموږ ټول مشکلات له منځه تللی شي.

نقش خودکفایی امنیتی بر روند فعالیت های سکتور خصوصی

اعزامی

به اساس توافقنامهٔ سال گذشته سران پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) و آیساف در کنفرانس لزبن پایتخت پرتگال، قرار است خروج تدریجی نیروهای خارجی از جولای امسال (سرطان) آغاز و تا اخیر سال ۲۰۱۳م کاملاً خاک افغانستان را ترک بگویند و جای خالی آنها توسط نیروهای امنیتی داخلی پُر گردد.

انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای داخلی، فرایندی است که جامعهٔ جهانی و دولتمردان افغان با توجه به واقعیت های موجود جامعه افغانی و فشار ذهنیت عامهٔ کشورهای کمک کننده، پس از ده سال بدان متوسل می شوند. بنابر ساختار روانی، تاریخی و سیاسی جامعهٔ افغانستان، اتباع کشور ما در طول تاریخ به حضور خارجی ها در کشور نشان روی خوش نشان نداده و گاهی هم در حالاتی که اغیار بنابر خواست و دعوت حکام وقت وارد افغانستان شده اند، اغلباً با چالش ها و حساسیت های برخورده اند که حاکی از نارضایتی مردم در برابر آنها بوده است.

جامعه جهانی، برای اخراج نیروهای خویش از افغانستان با فشارهای عدیده ای از جانب ملت های شان مواجه است. هیچ نیروی خارجی تا ابد در یک کشور دیگر باقی مانده نمی تواند؛ قوت های را که سازمان ملل متحد در حالات خاص، ضرورت حضورش را در یک کشور خارجی لازم می بینند، طی تشریفات ویژه در شورای امنیت ملل متحد مورد تصویب قرار داده و برای نیل به هدف خاص و قید مدت و به اجازهٔ رسمی دولت میزبان وارد یک کشور می شوند.

رویدادهای ده سال گذشتهٔ کشور ما، حاکی از آنست که اذهان عامه در داخل و خارج برای خروج نیروهای خارجی و انتقال مسؤولیت های امنیتی به نیروهای داخلی مساعد گردیده و هر دو طرف برای انتقال و پذیرش این ماموریت آمادگی می گیرند. آنچه که درین مقال میخواهیم روی آن تأکید کنیم اینست که پس از انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای داخلی، سرنوشت جریان رو به رشد فعالیت های سکتور خصوصی چه خواهد شد؟ آیا این روند با رفتن خارجی ها و خودکفا شدن نیروهای امنیتی، سرعت گرفته سیر صعودی خود را می پیماید و یا اینکه با رفتن خارجی ها جریان فعالیت های سکتور خصوصی کُند گردیده و سیر نزولی می گیرد؟

بدیهی است که هر دولتی خوامخواه پس از سپری کردن دورهٔ جنگ و بحران نخستین کاری که در جهت بقا و مشروعیت خود باید انجام بدهد، عبارت از سر و سامان دادن اوضاع اقتصادي کشور است. انکشاف اقتصادی، رفع عقب ماندگی و امحای فقر در صدر برنامه های کاری دولت قرار دارد و مقامات دولتی بنابر محدودیت امکانات، کمی پرسونل و ظرفیت و داشتن تجربه فعالین سکتور خصوصي در ارائه خدمات اجتماعی و اقتصادی، سکتور خصوصی را مورد حمایت قرار داده تا در کنار نهادهای اقتصادی دولت، در امر انکشاف اقتصادی جامعه سهم فعال داشته باشد.

خودکفایی نیروهای داخلی و انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به آنها، ظاهراً دلالت بر بهبود اوضاع امنیتی و اطمینان روحی تمامی اقشار و طبقات جامعه

برای سرمایه گذاری را دارد. زیرا هیچ کسی حاضر نیست که در اوضاع و احوال بحرانی برای راه اندازی پروژه های بزرگ سرمایه گذاری کند و یگانه مشوقی که سرمایه گذاران، تجار و صاحبان سکتور خصوصی را وامیدارد تا داشته های خود را به قصد دریافت مفاد بیشتر و رونق اقتصادی جامعه بکار بیندازند، عبارت از امنیت است. پس خودکفایی امنیتی و ضامن تشویق سکتور خصوصی در امر سهمگیری فعال سکتور خصوصی در امر انکشاف اقتصادی می باشد.

مگر آنچه که در رابطه به خودکفایی امنیتی پس از خروج نیروهای خارجی قابل تأمل است، اینست که آیا همزمان با خروج تدریجی نیروهای خارجی به دو مسألهٔ دیگر که در ثبات و امنیت نقش اساسی دارد، عطف توجه می شود یا خیر؟

تسریع و تطبیق پروسهٔ صلح و همچنان آموزش و تجهیز نیروهای داخلی، دو مسألهٔ مهمی اند که همزمان با پذیرش مسؤولیت های امنیتی توسط نیروهای داخلی، بایست به آن توجه صورت بگیرد. زیرا اگر پروسهٔ مذاکره و مصالحه با مخالفین مسلح به نتیجهٔ مطلوب منجر نشود و مخالفین از جنگ و مخالفت دست برندارند، طبیعی است که جنگ در غیاب نیروهای خارجی نیز ادامه می یابد و نیروهای داخلی به تنهایی قادر به تأمین چنان نظم و ثباتی که مایهٔ اطمینان سرمایه گذاران تشبثات خصوص گردد، نخواهد شد. از سوی دیگر در صورت بیرون رفتن خارجی ها نیروهای امنیتی داخلی به آموزش، وسایل و تجهیزات مدرن نظامی ضرورت دارند، اگر در جریان سه سال دورهٔ انتقال مسؤولیت ها، این ضرورت بطور کامل برآورده نگردد، پس در صورت ادامه جنگ داخلی و یا هم بنابر اهداف توسعه طلبانه بعضی کشورهای منطقه، شانس ابتکارات توسعهٔ اقتصادی از دست دولت و فعالین سکتور خصوصی گرفته شده و سرمایه گذاران در اوضاع ناامن و غیر مطمئن، حاضر به سرمایه گذاری نخواهند شد.

ځان غوښتنه، سر زوري او خپلسري

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... چې يو يې په دې د توريالیو په خاله کې د خپلو بچيو له هديرو زړه توری شي، بل غاصب بيا تيار ولاړ وي، چې ګوندې ددغه مېړني هېواد پتيالي زامن به د خپل حريص کومې خوړه مړی کړي، حال دا چې د حرص په تادی کې يې د زهرو نواله تر خولې کړي وي. چې بيا يې نه تېرولای شي او نه "تو " کولای، په دواړو حالاتو کې يې هر اړخيزه (سياسي، اقتصادي، اجتماعي او نظامي) مړينه په برخه وي.

همدارنګه سرې دې خپل مېړنی خو ....
ملت ته هم حيران پاتې شي. چې هغه د شاعر انقلاب فضل ولي "ناګار " په وينا:

ماتې نه خورې خو دا خوی دې پخوانی دی
چې د فتحې له ډګر ووځې ناکامه

رښتيا هم چې زموږ مېړنی ملت د مېړانې او سربښندنې ځلانده او روڼ تاريخ لري، د هر غاصب او نيواکګر ځواک په مقابل کې لکه د اوسپنيز دېوال په څېر درېدلي يو، وژلی مو دی، مات کړی مو دی، څغلولی مو دی، او په دې ترڅ کې مو هر ډول ستونزې او ناخوالې زغملې دي، خو د بهرنيو له ورکاوي سره په خپلمنځي ورکاوي اخته شوي يو، له پرديو نه تر خلاصون وروسته مو خپل ورور له مرۍ نيولی او پخپلو کې داسې سره اخته شوي يو، لکه پلرنې دښمنان ! ! !

که کوم عادل مؤرخ زموږ دا دواړه حالتونه مطالعه او مقايسه کړې نو پرته له يوه ...... سرزورې او په جګړو کې روږدي قوم پرته به راته بل کوم نومونه غوره کوي.

موږ د ښکېلاکګرانو او څېښاکګرانو حصر، توطئې او چلوټې ولیدلې، لمس او حس مو کړې، دهغوی وعدې مو واورېدې، چې په دې دنيا يې د جنتونو زيرې راکړل، خو نه مو جنت وليده او نه مو ښادي او خوشحالي، لا چې هره راتلونکې ورځ راته نوی دوزخ وي او د سبا ورځې لپاره راته د نويو دوزخونو دروازې خلاصې وي.

موږ پخپلو خولو د ملي يووالي، ورورولی، واحد ملت چيغې وهو، خو د عمل په ميدان کې بيا خپل ځان د يوه واحد ملت په حيث پر ټوټو او پارچو وېشو، د کرکې، نفرت، تعصب او رونه پخپله بلوو او پخپله پکې خانونه سوځوو. ځنې ښاغلي مو سوله او ملي پخولاينه د ټولو کړمو د هوارې درمل ګڼي او ځنې نور درانه مو سوله او پخولاينه د خپلو ځانګړيو ګټو په زيان بولي. ځينې بيا د پښتنو د حقوقو خبره کوي او ځينې نور بيا د تاجکو، ازبکو، ترکمنو، هزاره و او پشه يانو په استازيتوب د خپلو ګټو د ساتنې او زياتېدنې لپاره ځانونه په ميليتونو پورې تړي او د نورو د مقابلې توغ پورته کوي، د ملي يووالي او واحد ملت پر ځای د توکمونو او ميليتونه خبرې کوي، او د يو بل په مقابل کې د خلکو د کرکې او نفرت احساسات راپاروي. حال دا چې همدغو د کرکو او نفرتونو اور موږ ته خپل کور دوزخ ګرځولی او د نيواکګرو د حرص او لالچ هيلې يې تاندې ساتلې دي او هڅه کوي چې د خپلو توطئو د عملي کېدا په صورت کې مو يو يو تر ستونې تېر کړي او يا مو د غلامانو او مريانو په څېر و کاروي.

خبره دا ده هغه وخت به کله راځي چې زموږ ښاغلي دې خپل هېواد او هېوادوالو ته د ککړيو، شهادتونو د قربانيو پر ځای او د توکم، ژبې او لورې او همدارنګه د خپلوی پالنې او ځانګړيو ګټو قرباني ورکړي، خپله "انا " له خپلو ملي ګټو قربان کړي، هغه چاته په هره برخه کې د ملي زعامت واګې ورکړي، چې ددې هېواد د سرلوړی هيلې په زړونو کې پالې هو ! همداسې زعامتونو زموږ ملي کړمې هوارولای شي او بس.

کابل پوهنتون دشلمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې

ډېرې خبرې مې په زړه وې

عبدالله "کامه وال"

د شملي پیړی د دویمې نیمایي دویمه لسیزه، په افغانستان کې، په تیره کابل پوهنتون کې د سیاسي - ایډیالوژیک کشمکش او اخوډب وخت و. دا هغه وخت و، چې د ګڼو نورو ایډیالوژیکي او نشنلستي ګوندونو او ډلو سره دوه عمده او د پام وړ ایډیالوژیو ټکر وکړ؛ لومړی د مصر د اخوان المسلمین له فکر نه اغیزمن محصلین، چې د "جوانان مسلمان" په نامه یې په پوهنتوني لاریونونو کې برخه اخیسته او د مسلمانو ځوانانو یوه فعاله ډله وه چې په پوهنتون کې یې ددیني او اخلاقي ننګونو په وړاندې مبارزه کوله دویمه ډله کمونیستان وو، چې د مارکس او لینن الحادي او کمونیستي افکار و اغیزمن شوي وو. دریمه ډله شعله جاوید وه چې دا هم کمونستان وه خو دو مأوچی دچین شوینزم رهبر وه دنظریاتو اغیزمن شوی وو پورتني فکرونه، په بشپړ ډول یو د بل پر ضد وو. که ووایو، چې د ډیموکراسۍ د لسیزې پرمهال اصلي اخوډب هم د همدو ډلو ترمنځ و، مبالغه به مونه وي کړی خو ددې ډلو ترمنځ زیات فعال "جوانان مسلمان" او کمونستان وه دا دواړه ډلې د زیات نفوذ درلودونکې وې خو د نفوذ لاملونه یې بېل بېل و د کمونیستانو د نفوذ لاملونه ډېر دي، خوسترلامل یې د وخت د حکومتونو بې تفاوتي او د وخت د شوروي اتحاد له لوري ددوی ملاتړ و. د اخوان د فکر د نفوذ دلیل ښایي روښانه وي او هغه دا، چې د افغانستان د نفوس نهه نوي سلنه ملتزم مسلمانان دي او د همدغو مسلمانانو بچیان وو، چې په پوهنتون کې په زده کړه بوخت وو؛ دوی هیڅکله د اسلام ضد افکارو پر وړاندې بې تفاوته نه شوای پاتې کېدای.همدا دلیل وه چې په یوه فکری مبارزه یی لاس پوری کړاو دا فکری مبارزه ورو ورو په یوه وسلواله مبارزه بدله شوه چې یواځې په کابل کې تم نه شوه بلکې دافغانستان ګوډ ګوډ ته یې ریښې خوری شوی اودافغانستان مسلمان ولس ددی مبارزی ملاتړ وکړ اودوخت د فاسد نظام پروړاندی یی ملی قیام وکړ د یاد دلیل پر بنسټ د افغانستان د شلمې پیړۍ جهاد یو ایډیالوژیک جنګ وو. په دې معنا، چې د دواړو لوریو پلویانو خپلې خپلې ایډیالوژۍ لرلې. داسمه ده چې دا دواړه ایډیالوژۍ وې، خو آیا دواړه برابرې ګڼلی شو؟ ! نه، هیڅکله نه ! کمونیزم یوه داسې ایډیالوژي وه، چې مذهب یې د ملتونو اپیم باله؛ له دې سره سره که د کمونیزم د فکر ټول اصول وڅیړو نو تر ډېره بریده زموږ د ټولنې له کلتور او دودونو سره په ټکر کې و، که یې سپینه ووایو، نه یواځې داچی له کلتور او دودونو، بلکې د بشر له فطرت سره مخالفه وه. چې په یوه جمله کې یې رالنډه کړو، مارکس مذهب اپیم باله او د افغانستان د نفوس سلو کې سل د مذهب پیروان وو. آیا له داسې یو فکر سره د داسې یو ملت رغیدل شونې وو؟ ! !

ددې په مقابل کې، د «جوانان مسلمان» غورځنګ و، چې د اخوان المسلمین د فکر پلویان وو. د "جوانان مسلمان "غورځنګ پورته کیدو ته که ځیر شو، راته جوته به شي چې ددې غورځنګ منځته راتک د وخت د شرایطو پر وړاندې طبیعي غبرګون و. ځکه، هیڅ مسلمان ځوان د کمونیستانو په واسطه د خپل دین او ګروهې توهین او سپکاوی نه شو زغملی. ددې اور لومړنی بڅرکی کمونیستانو ولګاوه. دا دوی وو چې د خدای له شتون نه یې سترګې پټې کړې، د روژې په میاشت کې د کابل پوهنتون کې آزادانه خوراک کاوه او تر ټولو بده یې لا دا، چې دوی قرانکریم ته هم سپکاوی وکړ. دا او ځیني نور هغه لاملونه وو چې مسلمان ځوانان یې وهڅول څو د دغه ډول کړنو پر وړاندې غبرګون په اخوډب بدل شو.

چې د پوهنتوني اخوډب خبره وروسته جبهه یي جګړو ته ورسیده، د کمونیستانو د ملاتړ لپاره شوروي را ودانګل، ملي مقاومت پیل شو او په پایله کې روسان مات او مجاهدین برلاسي شول. له بریا وروسته، مجاهدینو هم ډېرې تیروتنې وکړې، د واک پر سر جګړې او د واک لپاره ورور وژنه یې څرګندې بیلګې دي.

له پورتنۍ اوږدې سریزې څخه مې موخه دا ده، چې دا خو څرګنده ده چې دواړو لوریو تیروتنې کړې دي، پوښتنه دا ده چې آیا دا دواړه تیروتنې سره برابرې دي؟ ! کمونیزم افغانستان ته یوه وارداتي ایډیالوژي وه، آیا د اخوان فکر ته وارداتي ویلی شو؟ ! افغانستان ته د کمونیزم د فکر لیږدول ددې اوږدې غمیزې آر لامل دی، آیا د اخوان فکر هم په دې غمیزه کې خپله برخه لري؟ ! دا او ځیني نورې پوښتنې ښایي په ډېره سړه سینه او ځواکمن منطقي استدلال سره ځواب شي.

لومړی دا چې په افغانستان کې د کمونیستانو او اخوانیانو تیروتنې په هیڅ ډول اصلاً پرتله کیدای نه شي، ځکه کمونیستانو نه یواځې د اخوانیانو پر وژنو او کړولو سرپه ونه کړه، بلکې د دوی له ایډیالوژیکي ملګرو پرته تری هیڅ څوک آرام پاتې نه شول. د دوی له فکر سره مخالفت جرم بلل کیده، اوسزایی مرګ و جسدي تصفیه کمونیستانو لپاره هدف ته د رسیدو په لور مشروع لار وه. د مرحوم داود خان د نظام راپرځول او پر ځای یې د ګوتو په شمیر کسانو ایډیالوژي واکمنول په خپل ذات کې یو جرم و. ډله ییزې وژنې، ورانی او استبداد بیا د همدې لړۍ نورې کړۍ وې.

د کمونیزم فکر د ۱۰۰٪ افغانانو له فکر سره په څرګند ټکر کې وو. افغانانان سخت مذهبي خلک دي او کمونیزم مذهب د ملتونو اپیم باله. پرداسې یو ملت ددې ډول آیډیالوژۍ تپل بل جرم و. دا سمه ده چې د اخوان فکر افغانستان ته د ځینو محصلینو په واسطه ولیږدول شو، ددې فکر تیوریسن امام حسن البنا و؛ ولې که د افغانانو اسلام ته شدید میلان په پام کې ونیسو، نه یواځې دا، چې دا فکر د ولس له افکارو سره په ټکر کې نه و، بلکې لا یې له ولس سره همغږي لرله. ددې فکر ریښه او اصل چې د اسلام دین دی سلګونه کلونه وړاندې افغانستان ته راغلی و. دې فکر یواځې د اسلام د سم پوهاوي مفهوم افغانستان ته ولیږداوه بنا پردې، دا فکر په افغانستان کې د وارداتي افکارو په کتار کې نه شو درولی. که څوک یې دروي، هغه بیا اسلام هم وارداتي فکر بولي چې د افغانانو په خټه کې اخښل شوی دی.

د افغان ولس په غمیزه کې د اخوان فکر هم یو مطرح لوری و. خو دا مو مخکې خلاصه کړه چې دا کمونیستان وو چې څوک یې په خپل کور کې هم په آرام نه پرېښوده اخوانیان ددفاع په حالت کې وو، که دا دفاع نه وای شوې، نه به مو کلتور او نه هم دین په امن پاتې وو. نن به د افغان د نامه وروستاړی "اوف" و. د غمیزې لامل کمونیستي فکر او کمونیستان وو. د دې غمیزې په پراختیا کې د اخوان د فکر ونډه نه وه، بلکې د هغو څرګنده ونډه وه چې ځانونه یې اخوانیان بلل او که د هغوی تیروتنې هم د کمونیستانو له غلطیو سره پرتله کړو، په اوړو کې به د مالګې برابره وي. داسې ویل کیدای شي، چې د غمیزې یو لامل دا هم و، چې اخواني مشرانو د اخوان اصلي فکر ته شا کړه او واک تر لاسه کولو ته یې کار ووایه. په دې خبره ښایي په ډېر جرأت سره اعتراف وکړو، چې د اخوان فکر نه، بلکې اخوان پورې تړلي مشران په دې غمیزه کې لتاړ دي او د کمونیزم هم فکر او هم پلویان په دې غمیزه کې ځانګړې ونډه لري. پورته وویل شول چې کمونیزم ولې د غمیزې لامل و.

له بده مرغه نن یو شمیر نا خبره یا عقده من لیکوالان او کارشناسان کله چې ددې غمیزې د مجریانو په اړه څه لیکي یا وای نو داسې انځوروي چې ګوندې د اخوان فکر پورې د تړلو مشرانو تیروتنه د کمونیستانو (خلقیان او پرچمیانو) سره برابره ده یا دا چې د اخوان د فکر لیږد هم د کمونیزم په څیر یووارداتی فکر ګڼې دا دوی په بې علمی دلالت کوی.

پر اخوانې مشرانو د خپلو پلویانو له لورې عمده تور همدادی چې دوی خپل اصلي مسیر (فکر) پرېښود، همدا لامل دی چې دوی نن له پرونې ملاتړه برخمن نه دي. خوپه افغانستان کې د مجاهدینو د مشرانو تیروتنې د کمونیستانو له جرمونو سره نه پرتله کیږي او بله دا چې د کمونیزم د فکر لیږدول دا په خپل ذات کې یو جرم و چې ترسره شو خو بقا یې ونکړه دماتې سره مخ شواودنړی له مخه یې تغر ټول شو.

د اقتدار نشه چې ما ولیده

محمد خلیل

تېره اونۍ مې دوه پېښې پخپلو سترګو لیدلې چې ډېر وربانديې خواشیني او خوربدلې یم.

یوه پېښه دا وه چې کله له کابل نه لغمان ته په غواګۍ موټر کې سور شوم نو له تنګي غارو نه لږه اخوا یو ځوان ولاړ و، په اشاره یې ډریور ورته موټر ودرولو او له موږ سره شاته سیټ کې کښیناست، سروبي بازار ته لا نه وو رسیدلي چې ځوان، ډریور ته د موټر د ودرولو غږ وکړ، موټر یې ودراو او هغه ترېنه کوز شو، خو ددې پر ځای چې خپله کرایه ورکړي سیده د بازار په لور رهي شو، ډریور ورته غږ وکړ ځوانه ! کرایه نه راکوی؟ هغه په ځواب کې وویل: که ما دریشي اچولی وای نو له ویرې به دې له ما کرایه نه و غوښتې، ډریور ورته وویل: که ته د هېواد جمهور رئیس هم وای نو ما به خپل حق درنه غوښتې و، ته چې هر څوک یې، یې به خو زما حق به راکوی ما موټر دې لپاره اخستې چې ځانله حلال رزق وګټم، سورلي څو ګامه شاته راغې او ویې ویل: کم عقله ! پخپل ځان ولې ظلم کوی؟ غریب سړی یې، تا به هم په پولیسو وترم او موټر به دې هم ټول عمر ودروم، خبره چې د جګړې بڼه خپله کړه نو موږ مداخله وکړه او ډریور مو په زوره شترنګ ته کښېناوه، الله حاضر دی چې ډریور ډېر اخلاقي خلمې و، یوه خبره یې هم بېځایه او بې قانونه ونه کړه، نه دهغه په مخکې او نه هم له هغه تر جلا کېدو وروسته، خو تر آخره د خپګان په ډنډ کې ډوب و.

دویمه پېښه څه داسې وه چې زه د لغمان په مرکز کې یو دکان مخې ته ولاړ وم ناڅاپي زما پر پښو د اوبو څاڅکې توې شولې ګورم چې یوه ښکلې زلمی د دکان په مخکې د اوبو چېکاو کوي، ورته مې وویل: تا خو به راته غږ کړې و چې ځان مې په ډډه کړی وای، ګوره زما څپلۍ او پینځې دې ګنده کړې، هغه ددې پر ځای چې بخښنه وغواړي په درشته لهجه کې راته وویل: موږ چاته اوازونه نه شو کولی. پخپله به لرې شوې وی کنه، زما او دهغه ترمنځ خبرې تودې شوې، نږدې و چې یو بل ته لاس واچوو، پدې وخت د دواخانې مخې ته په څوکۍ ناست یو سپین ږیرې راته په اشاره کې د غلي کېدو وویل: ما دهغه خبره ومنله او خپلې شونډې مې وګنډلې.

کله چې د سودا له اخستلو نه فارغ شوم او د سپین ږیري په لورې وخوځیدم نو راته یې وویل: ښه ده چې زما په اشاره یوه شوې، دده پلار په حکومت کې غټ سړی دی ځکه ورته څوک انسان نه ښکاري، له داسې خلکو نه ځان ساتل پکار دی.

تاسې په الله جل جلاله یقین وکړئ چې د داسې حالت په لیدو زه هم دومره د ژور خپګان په ډنډ کې ډوب شوم چې تر کابله په مزل نه یم پوه شوی، په زړه کې مې همدا کرل او ریبدل کول چې که زموږ د افغانانو داسې حالت وي نو د ښې ورځې مخ به څنګه وینو؟ آیا مسلمان او مؤمن همداسې وي چې له خپل اقتدار او قوته ناوړه استفاده وکړي او د بل مسلمان په عزت او حقوقو پښې کېږدي !؟

نا هر ګز نه، رښتونې مؤمن او مسلمان هېڅکله هم داسې نشي کېدلی، اسلام کله هم دداسې کړنو اجازه نه ده ورکړې بلکې په څرګندو ټکو کې یې حرام ګرځولې دي.

د اسلام د سپېڅلی دین په رڼا کې د اقتدار او ځواک خاوندان اصلاً د خپل ولس خدمتګاران دي نه باداران چې خپل باداري وربانديې وچلوي، خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې له اوږدې مودې راهیسې اقتدار پر ولس د باداري ښه خپله کړی، هر څوک چې اقتدار او مال ترلاسه کړي هغه له هر څه دمخه پر ولس خپل د باداري شوق پوره کوي ولس ته دا احساس ورکوي چې دهغه شان، شوکت، جاه و جلال او عظمت ته سلامي شي، او هره خبره یې په سر سترګو ومني. په داسې حال کې چې د الله او رسول په قانون کې د داسې کړنو هېڅ ځای نشته.

اصلاً د اسلام سپېڅلی نظام د انسان کرامت، عزت، شرف، سر او مال خوندي کوي او هېچاته اجازه نه ورکوي چې دهغه سپکاوې وکړي.

حضرت عمر رضی الله عنه به خپلو والیانو ته ویل:

خبردار ! مسلمانان ونه وهئ ځکه چې دا دهغوی د ذلت او اهانت باعث کېږي.

د خلکو په غونډو کې به ویل: ای خلکو ! ما والیان دې لپاره نه دي مقرر کړي چې تاسې ووهي بلکې دې لپاره مې مقرر کړیدي چې پر تاسې د عدل قانون حاکم کړي، تاسې د نورو له تېریو نه وساتي او د غنیمت مالونه دربانديې په مساویانه ډول ووېشي، که چېرته هغوی داسې نه وي کړي نو تاسې ماته ووایئ.

د حضرت عمر رضی الله عنه دا قانون یوازې په کاغذونو پورې محدود نه و، بلکې عملي کړی هم و چې یو مثال یې دا هم دی.

عمرو ابن العاص د عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې د مصر والي و، د اسونو د ځغلولو په مسابقه کې یو قبطی ځوان دهغه له زوی نه مخکې شو، د والي زوی په قهر شو او هغه یې په څپېړه وواهه، هغه عمر رضی الله عنه ته راغې او ټوله پېښه یې ورته بیان کړ. عمر رضی الله عنه د مصر والي او دهغه زوی مدینې ته راوغوښتل، قبطي یې حاضر کړ او ورته یې وویل: آیا ته دغه ځوان وهلی یې؟ هغه وویل هو همدې ځوان وهلی یم. ورته وویل: ته یې هم ووهه، قبطي ځوان هغه د یوې لوی غونډې په وړاندې ښه ډېر وواهه کله چې بس کړ نو عمر رضی الله عنه ورته وویل: دا اشراف زاده نور هم ووهه. بیا یې والي ته مخ واړاو او ورته یې وویل: له کوم وخت نه دې خلک خپل غلامان ګرځولي دي؟ په داسې حال کې چې هغوی له مور ګانو نه آزاد زېږېدلي دي.

اوس نو راځئ پخپل ګریوان کې سرښکته کړو او له خپل ضمیره وپوښتو چې آیا موږ په اسلامي نظام عمل کړیدی او که نه، که کړی مو دی نو بیا زموږ په ټولنه کې ولې د عدل او انصاف جنازه وتلې ده؟

په هغه وخت کې هم همدا قرآن کریم او نبوي احادیث موجود وو نن هم موجود دي خو لوی فرق پکې دا دی چې هغوی د زړه له کومې منلی او عملاً یې پرځان تطبیق کړي و، مګر په نن وخت کې د اسلام د سپېڅلي قانون د منلو تشه دعوه خو شته مګر د عمل په ډګر کې څرک یې په دوربین کې هم نه لیدل کېږي.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

زیاترو لویدیځو ورځپاڼو په خپلو وروستیو گڼو کې د کندهار د ولایتي شورا د مشر او د ولسمشر کرزي د ورور احمد ولي د کرزي د وژل کېدو په اړه مطالب خپاره کړي دي، چې د شهادت درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.

ایرو ایشیا ویو:

ایرو ایشیا ویو خپرونې د دغې وژنې د سیاسي اغیز په اړه لیکلي:

د احمد ولي کرزي د ورور وژل کېده د افغانستان لپاره چې له څو کلونو راهیسې په مصیبتونو او غمونو کې ښکیل دی یوه ټکان ورکونکې پېښه وه.

خو د خپرونې په وینا سیاسي کتونکي گمان نه کوي، چې د احمد ولي کرزي وژنه به د افغانستان پر سیاسي پرمختگ کومه دوامداره اغیزه ولري.

ایرو ایشیا ویو زیاتوي:

کتونکي اوس په هڅه کې دي چې وپوهېږي، چې ایا د احمد ولي کرزي قتل به ولسمشر حامد کرزی په سیاسي توگه کمزوری کړي او که څنگه؟

ایا په پارلمان کې به سیاسي شخړه زیاته شي؟ ایا د افغانستان په جنوب او په خاصه توگه د کندهار چې نړیوال ځواکونه ترې نه د وتلو تیاری نیسي، پر امنیتي وضیعت به تاثیر ولري؟

د ایرو اشیا خپرونې په وینا طالبانو د احمد ولي کرزي د وژلو مسولیت پر غاړه اخیستی او ویلي چې هغه د امریکا د استخباراتو غړی وو.

دغه راز افغان دولت هم د طالبانو دا ادعا مني، خو د خپرونې په وینا ډیر کم شمېر نړیوال چارواکي دي چې پر دې مسله به دومره زر باور وکړي.

ایا د احمد ولي کرزي قتل به ولسمشر په سیاسي توگه کمزوری کړي

د نشریې په وینا شرایطو او جزئیاتو ته په کتنې سره به په رښتیا سره دا ډیره گرانه وي چې باور وشي دا وژنه د طالبانو په امر سره شوې ده.

خپرونې په دې برخه د ایساف د یوه قومندان چې خپل نوم یې نه دې اخیستی، په حواله ویلي چې د احمد ولي کرزي قتل یوه وژنه ده نه کوم سیاسي ترور.

ایرو اشیا ویو وایي، افغانستان له یوې حساسي مرحلې څخه د تیریدو په حال کې دی، له دې هېواده بهرني ځواکونه په وتو دي او افغان دولت له طالبانو سره د سولې هڅه کوي، نو ممکنه ده چې د احمد ولي کرزي وژنه به سیاسي بهیر اغیزمن کړي.

که څه هم چې افغان مقاماتو او امریکایي مسولانو له پېښې څو ساعته وروسته دا قتل د یوې شخصي دښمنۍ نتیجه وبلله، خو د احمد ولي کرزي ورور محمود کرزي بیا ویلي، چې پلټنو ثابت کړې چې قاتل د طالبانو د کوټې له شورا سره کتنه کړې وه.

محمود کرزي ویلي، داسې زیات ځوانان شته چې پرته له جگړو بل څه نه پوهېږي او په اسانۍ سره د هغوي وفاداري بدلیدلی شي.

گارډین:

گارډین ورځپاڼې بیا د دغې پېښې په اړه (د کندهار د پاچا) د قتل په نامه یو مطلب خپور کړی او لیکي:

احمد ولي کرزي یوه ورځ ویلي وو، چې هېواد یې د پاچایانو له خوا اداره شوی د پاچایانو ورونه، د تره ځامن او اولادونه پیاوړي خلک وي، دا افغانستان دی، دا هېواد به بدل شي خو په یوه شپه او ورځ کې نه.

گارډین وایي، احمد ولي کرزي د کندهار د ولایتي شورا له ریاست څخه ډیر لوړ وو، نوموړي د نشه یي موادو په کاروبار تورن وو، خو دا تورونه هیڅکله هم ثابت نه شوه. خو نوموړي ته د امریکا د پوځي مرستو میلیونونه ډالر ور ورسیدل.

ایساف ځواکونو شپږو ملکي...

ته وویل، چې بهرنیو ځواکونو د ملکي وگړو پر موټر هغه مهال ډزې وکړې، چې موټر ته یې د ودرېدو اشاره وکړه، خو موټر چلوونکي ورته په نه پام موټر و نه دراوه.

عنایت وایي، چې د دوو ټپیانو روغتیایي حالات د اندېښنې وړ دي.

خو د ولایتي شورا غړی نجیب الله رحیمي وایي: "افغانان د موټر درولو له دې ډول اشارو سره نه دي بلد، بهرنیو ځواکونو ته په دې اړه له احتیاط څخه کار اخیستل په کار دي."

د ولسمشر دسلاکار له وژونکو ...

ولایتونو نیول شوې دي.

هغه د ولایتونو نومونه یاد نه کړل، خو زیاته یې کړه: "په ولایتونو کې هم موږ ته معلوم دي، چې له کوم خایه ورسره اړیکې نیول شوې دي."

تېره ورځ د ولسي جرگې یو شمېر غړو ویلي و، چې د یادو کسانو په وژنه کې د گاونډي هېواد پاکستان استخباراتي اداره (ای اس ای) لاس لري.

محمدي د جان محمد خان پر کور د برید د څرنگوالي په اړه وویل، چې لومړی یو تن، چې خان یې د اروزگان اوسېدونکی معرفي کړی و د جان محمد خان کورته ننوتی و او هغه ته یې ویلي و، چې په اروزگان کې یې د ده له وراره (مطیع الله) سره کار کاوه، خو اوس یې له دندې گوښه کړی دی.

مطیع الله د اروزگان د لویو لارو د امنیتي قوماندان په توگه دنده ترسره کوي.

د ولسي جرگې په پرونۍ غونډه کې د ملي امنیت عمومي ریاست مرستیال ډاکتر ضیا هم گډون درلود.

هغه وویل، چې پر یادو دواړو کسانو سربېره په دې وروستیو کې د نورو وژل شویو مشرانو په اړه کافي اطلاعات لري، خو نه غواړي، چې د رسنیو په وړاندې یې څرگند کړي.

د ډاکتر ضیا له غوښتنې سره سم د ولسي جرگې غونډه سري شوه او خبریالان له تالار څخه و ایستل شول.

دا په داسې حال کې ده، چې د رواني میاشتې په ۲۱مه په کندهار کې د ولسمشر ورور احمد ولي کرزی په خپل کور کې پر ډزو ووژل شو.

په تېرو څو میاشتو کې د کندهار امنیه قوماندان خان محمد مجاهد، د هېواد په شمال کې د ۳۰۳پامیر زون قوماندان جنرال داوود، د کندوز امنیه قوماندان مولانا سیدخېلي هم وژل شوي او د دغو ټولو وژنو مسوولیت وسلوالو طالبانو پر غاړه اخیستی دی.

د هېواد په بېلابېلو سیمو کې ځینې نور قومي مشران هم د ناپېژانده وسلوالو په بریدونو کې وژل شوي دي.

جان الن به له ډیویډ...

خو جنرال الن، چې یو بل ستوری یې هم پر تېر ولگول شو (ترفیع یې وکړه) وویل: "زما اراده دا ده چې د وسله والو مخالفانو پرضد فشار ته دوام ورکړم.سختې ورځې به په مخکې ولرو.زه له ستونزو بېره نه لرم."

الن، چې د امریکا د ویرجینیا د سیمې د سمندري ځواکونو غړی دی، په پوځ کې د کار ۳۵ کلنه تجربه لري.

ده په پوځ کې په اتیایمې او نوي یمو لسیزو کې چټکه وده وکړه او د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۸ کلونو ترمنځ یې د عراق په لوېدیځ کې د ایتلافي ځواکونو د مرستیال عمومي قومندان په توگه کار کړی دی.

له عراقه خپل هیواد ته تر ستنېدو وروسته د امریکا د مرکزي قومندانی مرستیال قومندان وټاکل شو او تر هغو یې د جنرال ډیویډ پیترایس تر مشرۍ لاندې کار وکړ چې هغه په افغانستان کې مقرر شو.

د پیترایس په شان الن د ډیپلوماسي او عسکری ښه شهرت لري.

په عراق کې ده له قبایلو سره د ایتلاف کولو لپاره هلې ځلې وکړې چې په نتیجه کې یې په دغه هیواد کې نسبي سوله راغله.

خو افغانستان د بهرنیو پوځونو په هدیرې مشهور دی. د پیترایس کارونو ته د معجزې په سترگه کتل کېدل خو کله چې یې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو قومانده ترلاسه کړه سره له دې چې د دېرش زره اضافي عسکرو او د افغان امنیتي ځواکونو د زیاتولو په مټ یې د طالبانو پرضد په جگړه کې یو څه پرمختگ وکړ، په افغانستان کې د بلوا په پای ته رسولو او په دې هیواد کې د بشپړې سولې په راوستلو کې پاتې راغی.په همدې خاطر پرې سختې نیوکې وشوې.

اوس جان الن د دې په ترڅ کې چې له افغانستانه د ۲۰۱۴ کال تر پایه د پوځیانو پر ایستلو څارنه کوي، باید په افغانستان او سیمه کې د سولې د راوستلو لپاره سیاسي خبرې وکړي. لکه څرنگه چې دی وایي دا به سخت کار وي.

تحلیل کارشناسان افغان...

که این مرمی ها هم نزد طالبان و هم نزد اردو موجود است. لوی درستیز پاکستان در سفرش به کابل انکار کرد که این راکت ها از طرف آنها فیر نشده است، اما این که این راکت ها توسط کی و یا کدام گروه از خاک پاکستان بالای افغانستان فیر می شود، باید در این مورد تحقیق صورت گیرد."

این در حالیست که ریاست عمومی امنیت ملی افغانستان به تازه گی گفت: شواهد و مدارک در اختیار دارد که نشان می دهد حملات راکتی اخیر بالای ولایات کنر و ننگرهار توسط اردوی پاکستان صورت گرفته است.

معین سیاسی وزارت امور سرحدات، اقوام و قبایل افغانستان در این مورد به روز سه شنبه در نشستی سخن گفت که از سوی بنیاد فکری محمود طرزی به هدف بحث در خصوص حملات راکتی پاکستان بر قلمرو افغانستان در کابل راه اندازی شده بود.

عبدالرشید وزیری یکی از کارشناسان افغان در این نشست نظامیان پاکستانی را مسوول پرتاب راکت بالای مناطق شرقی افغانستان دانست.

او در مورد این که اردوی پاکستان با این کار چه اهدافی را دنبال می کند چنین گفت:

"هدف نظامیان پاکستان از انداخت بالای کنر و ننگرهار این بوده که این مناطق از مردم تخلیه شود تا از آن یک سرحد حاشیوی ستراتیژیک به وجود بیاید، بعد از آن کوشش می کند تا در این مناطق گروه های تندرو مذهبی را افراز کند و در داخل افغانستان به اخلال گیری و جنگ ادامه دهد."

آقای وزیری علاوه کرد که حکومت ملکی پاکستان بالای نظامیان آن کشور تسلط نداشته بناءً به گفته او صحبت با حکومت پاکستان در خصوص توقف حمله های راکتی آن کشور بر افغانستان بی نتیجه بوده و حکومت افغانستان باید از راه های دیگر مثل مراجعه به شورای امنیت سازمان ملل متحد حل این معضله را جستجو کند.

ننگرهاریان له خپلو وکیلانو...

ټاکنو پر مهال خلکو ته په لسگونو غوایان حلالول.

حاجي عبدالحنان وویل، چې د ولسوالۍ ډېرې سیمې یې د ښباک اوبه نه لري؛ خو تراوسه په دې برخه کې هم کوم وکیل کار نه دی کړی.

نوموړي زیاته کړه، داسې وکیل به څه کوي چې د دوی د اوبو او سرپناه غم نه خوري.

د شېرزادو قومي مشر حاجي علاوالدین پژواک اژانس ته وویل، چې په پارلماني ټاکنو کې تېکیو او درغلیو ولس دومره خواشینی کړی، چې بیا به په رایه ورکولو باور ونه وکړي.

نوموړي زیاته کړه: "وکیل به څنگه کار وکړي چې په دې نه پوهېږي، چې په رشوت کامیاب شو که په رایو."

نوموړی زیاتوي، چې بیا به هېڅکله په پارلماني ټاکنو کې ونډه وانخلي.

د اچین قومي مشر حاجي ملا جان شینواري پژواک ته وویل: "وکیلان په خپلو لانجو کې راگیر دي، خلکو ته یې هېڅ پام نه دی."

نوموړي زیاته کړه، په پیسو کامیاب شوي وکیلان به ولس ته څه خدمت وکړي.

دشمن با کشتار زنجیره یی هیچ ...

افغانستان است از آنها گرفته نشود. پیام ما به آنها این است که ما مسوولیت امنیتی را از نیروهای بین المللی گرفتنی هستیم و دشمن باید بدانند که با کشتار زنجیره یی هیچ گاهی جلو اراده مردم افغانستان را گرفته نمی توانند."

اشاره ء حکومت افغانستان به تلاش های جاری مخالفین مسلح مبنی بر مختل ساختن پروسه انتقال در حالی صورت می گیرد که از حدود دو ماه بدینسو چند مقام بلند پایه دولتی مورد هدف قرار گرفتند. ملک زرین، جنرال داود، خان محمد مجاهد، جنرال سید خیلی و احمد ولی کرزی برادر رییس جمهور کرزی از جمله مقامات بلند پایه یی بودند که درین اواخر در حملات مسلحانه مخالفین کشته شده اند.

آخرین قربانی حمله، اخیر مخالفین مسلح بر مقامات بلند پایه، که شب دو شنبه صورت گرفت جان محمد خان مشاور رییس جمهور کرزی بود که در منزلش با محمد هاشم وطنوال عضو ولسی جرگه از ولایت ارزگان کشته شد.

آقای عمر این کشتار زنجیره یی را وابسته به یکدیگر می داند و می گوید: این همه در خارج از کشور پلان می شود تا بزرگان قومی را از بین ببرند.

پروسه انتقال امنیت به خواست دولت افغانستان آغاز شده است و در مرحله اول امنیت ۷ ولایت و شهر کشور به نیروهای افغان سپرده می شود. رهبران حکومت در افغانستان به این باور اند که پروسه خروج سربازان بین المللی تا پایان ۲۰۱۴ میلادی تکمیل خواهد شد.

اما در عین حال این هوشدار نیز داده می شود که به جریان خروج نیروهای خارجی از سرعت عمل کار گرفته نشود، به خاطری که این کار دست آورد های چند سال اخیر را به تهدید مواجه خواهد ساخت.

الیکین تحفه مردم بامیان به رییس جمهور و وزیر آب وبرق

آژانس خبری وخت:

در حاشیه مراسم انتقال مسوولیت های امنیتی بامیان به نیروهای امنیتی داخلی که روز گذشته صورت گرفت، سه دانه الیکین از طرف مردم این ولایت به رییس جمهور کرزی و دو تن از مقامات بلندرتبه دولتی، اهدا گردید. در ختم مراسم پروسه انتقال مسوولیت تامین امنیت از نیرو های خارجی به نیروهای امنیتی داخلی در بامیان، سه دانه الیکین از طرف مردم این ولایت به رییس جمهور_کرزی، محمد اسماعیل خان سرپرست وزارت آب و برق و جناب اشرف غنی احمدزی رییس پروسه انتقال، تحفه داده شد.

بابه محسنی یکی از ریش سفیدان بامیان به آژانس خبری وخت گفت: "این تحفه ها بسیار با ارزش هستند، چون که مردم بامیان شب ها، با همین وسیله خانه های شان را روشن میسازند."

بابه محسنی علاوه نمود، همان طوری که برق در دیگر شهر ها ارزش دارد، الیکین نیز برای مردم این ولایت از اهمیت زیادی برخوردار است، اگر دولت مرکزی بخاطر توسعه اقتصادی کشور لازم بداند، ما انرژی الیکین را گسترش میدهیم. وی افزود، بخاطر خدماتی که جناب اسماعیل خان برای مردم این ولایت انجام داده است، لازم بود که از وی تقدیر گردد، بناءً این الیکین به پاس خدمات وی برایش ارسال خواهد گردید.

در همین حال عبدالله برات یکی از فعالین مدنی در بامیان به آژانس خبری وخت گفت: "این الیکین ها بخاطری به آقای رییس جمهور و اسماعیل خان سرپرست وزارت آب و برق فرستاده می شود که اگر مردم کابل و دیگر شهر های افغانستان نیز در بی برقی بسر میبرند از الیکین بامیان کمک بگیرند. " وی علاوه کرد، در شهر بامیان برق وجود ندارد، مردم این شهر تا هنوز از این وسیله برای روشنایی خانه های شان استفاده میکنند.

در عین حال داکتر فاروق وردک وزیر معارف افغانستان که در مراسم انتقال مسوولیت های امنیتی بامیان آمده بود و تحفه های ارسالی مردم این ولایت را تسلیم شده است، به رسانه ها گفت: "من این الیکین ها را به رییس جمهور و وزیر آب و برق میرسانم. " وی قول داد که یکی از این تحفه های با ارزش و وسیله روشنایی خانه های مردم بامیان را به مقامات حکومت مرکزی خصوصاً وزیر آب و برق افغانستان جناب اسماعیل خان تسلیم میدهد.

گفتنی است که پیش از این نیز مردم بامیان طی یک گردهمایی مسالمت آمیز، در اعتراض به نبود برق در این ولایت، یک الیکین بزرگ را در چوک سر بازار این ولایت نصب کرده و آنرا به نام چوک اریکین مسمی کردند.

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ
اونیزه
شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com